# یونیسف افغانستان

**د بشري وضعیت راپور**

**د 2024 کال د مارچ میاشتې له لومړۍ تر 31مې نېټې**

## مهم ټکي

- په 2024 کال کې د 12.3 میلیونه ماشومانو په ګډون 23.7 میلیونه خلک بشري مرستو ته اړتیا لري، دا اړتیا په عمده توګه د اوږدې جګړې له امله د پاتې اغېزو، د شدیدو اقلیمي ټکانونو او د هېواد د شدید اقتصادي مخ پر ځوړ له امله ده چې د بېکارۍ په لوړې کچې او د بیا رغونې په نازک حالت سره مشخصېږي.
- د مارچ پر 29مه او 30مه نېټه په ټول افغانستان کې شدید اورښت د 1,500 جریبه کرنیزې ځمکې د ویجاړېدو او څه باندې 540 کورونو او همدا راز په اوو ولایتونو کې د نورو مهمو زېربناوو د شدید زیانمېدو لامل شو.
- په مارچ میاشت کې تر پنځه کلنۍ کم عمره 948,975 ماشومان د خوارځواکۍ په موخه معاینه شول چې له دې ډلې 39,246 ماشومان (56 سلنه نجونې) د درملنې لپاره ومنل/ثبت کړل شول.
- د 2024 کال په مارچ میاشت کې، 5,432,789 کسانو د یونیسف په ملاتړ روغتیایي مرکزونو کې لومړني او اساسي روغتیایي او تغذیوي خدمتونه ترلاسه کړي چې د دغه شمېر نیمايي یې (2,7146,630 کسان) تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان دي.

## د وضعیت عمومي کتنه او بشري اړتیاوې

په افغانستان کې تر سیاسي بدلون وروسته په تېرو دوو کلونو کې، بشري غبرګون تر ډېره بریده د یوه ناورین مخه نیولې ده، خو بیا هم د افغانانو لپاره دا وضعیت خورا ستونزمن دی. 23.7 میلیونه خلک بشري مرستو ته اړتیا لري، چې له دې ډلې 12.3 میلیونه یې ماشومان دي. وچکالي او د اقتصادي بې ثباتۍ دوامداره اغېزې بشري مرستو ته د اړتیا لومړني لاملونه دي. سره له دې، په لومړنیو خدمتونو کمه پانګونه د ډېرى ټولنو لپاره بیا رغونه او پایښت ناشوني کړي دي، ځکه نو بشري اړتیاوې او لومړنۍ اړتیاوې په نه شلېدونکې توګه له یو بل سره تړلې دي.

افغانستان د ساري ناروغیو له پلوه ډېر اغېزمن دی. د 2023 کال د نومبر میاشتې له دریېمې اونۍ راهیسې د شري (سرخکانو) د شکمنو پېښو د ښودلو سیستم مخ پر ډېرېدو حالت ښیې. دا ډېروالی ښايي د ژمي په موسم کې د واکسین د کم پوښښ او پراخو ټولنیزو ځای پر ځای کېدنو له امله وي. د مارچ د 25مې او 31مې نېټې ترمنځ، 1,435 شکمنې قضیې او په دې ناروغۍ پورې د اړوندو 9 مړینو راپور ورکړل شوی، چې د تېرې اونۍ په پرتله د شکمنو پېښو په شمېر کې 12.6 سلنه کموالی ښیې. له شپږو ولایتونو: هرات (3)، کندهار (2)، فراه (1)، هلمند (1)، کابل (1) او نیمروز (1) څخه د نهو کسانو د وژل کېدو راپورونه ورکړل شوي. ټول وژل شوي ماشومان وو چې عمرونه یې تر پنځه کلنۍ کم وو او پنځه یې نجونې وې. د 2024 کال له پیله، د شري (سرخکانو) د 14,570 شکمنو پېښو او 71 مړینو راپور ورکړل شوی. د شري (سرخکانو) شکمنې قضیې، 11,728 (80 سلنه) تر پنځه کلنۍ په کم عمره ماشومانو او 6,615 (45 سلنه) په ښځو کې وې.

د ساري ناروغیو ښودونکي سیستم د 2024 کال له اوومې اونۍ راهیسې د شدیدو تنفسي انتاناتو په قضیو کې ثابت کمښت ښیې، چې د ژمي د موسمي حالت له امله دی. د 2024 کال د 13مې اونۍ په جریان کې، د شدیدو تنفسي انتاناتو د سینه بغل ټولټال 30,749 قضیې او په سینه بغل پورې د مړینې د اړوندو 70 قضیو راپور ورکړل شوی. د کال له پیل راهیسې، له 34 ولایتونو څخه د 501,444 شدیدو تنفسي انتاناتو د سینه بغل او 1,162 د مړینو راپور ورکړل شوی. له ټولو قضیو څخه، 317,410 (63 سلنه) تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان دي او 247,681 (49 سلنه) مېرمنې. له ټولو 1,162 مړینو څخه، 1,026 (88 سلنه) تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان او 521 (45 سلنه) مېرمنې وې. د قضیو اوسنۍ شمېره له اوسط شمېر څخه لوړه ده چې د تېرو دریو کلونو په جریان کې یې راپور ورکړل شوی (2020-2022). په 2023 او 2024 کال کې د قضیو لوړه شمېره د څارنې د سیستم د پرمختګ له امله د راپور ورکولو ښه والي ته منسوبېدای شي[1].

د مارچ پر 29مه او 30مه نېټه په ټول افغانستان کې شدیدو اورښتونو 1,500 جریبه کرنیزه ځمکه ویجاړه کړه او څه باندې 540 کورونه او همدا راز په اوو ولایتونو کې یې د شپږو پلونو او 450 کیلومتره سړک په ګډون نورې مهمې زېربناوې ډېرې زیانمنې کړې. د لومړنیو راپورونو او ارزونو له مخې، په شمال کې فاریاب ولایت، په ختیځ کې ننګرهار ولایت او په مرکزي غرنۍ سیمه کې دایکندي ولایت د سېلابونو له امله تر ټولو ډېر زیانمن شوي ولایتونه دي. دا دریېم ځل دی چې شمالي سیمه له یوې میاشتې څخه په کمه موده کې سېلابونه تجربه کوي، د مارچ په 21 او 26-27 د شدیدو بارانونو له امله اوه کسان مړه شوي او 384 کورنۍ زیانمنې شوې دي[2].

په مارچ میاشت کې له اوسط کچې ډېر اورښت د هېواد په ډېرى برخو کې د اورښت مجموعي کسر کم کړ. په ټوله کې د اورښت کچه په اوسط کچه کې ده، خو په سویلي، لویدیځو او شمالي برخو کې اورښت د 40 کلونو په اوسط ډول له 75 څخه تر 90 سلنې پورې دی. اورښت د محصولاتو حالت او د خاورې پاتې رطوبت ښه کوي او تمه کېږي چې د راتلونکي ژمي لپاره د غنمو حاصلات اوسط حالت ته نږدې وي. سره له دې، له اوسط کچې د پورته واورې او باران

---

[1] په افغانستان کې د ساري ناروغیو د خپرېدو د وضعیت راپور | د 2024 کال اتمه شمېره اپیډیمولوژیکي اونۍ.

[2] د افغانستان لپاره د بشري مرستو د همغږۍ دفتر لخوا د افغانستان په اړه لنډ تازه معلومات: لومړۍ شمېره تازه معلومات

اوربښت د افغانستان په شمالي سیمو کې په پسرلي کې د کرل کېدونکو غنمو د کښت بهیر ځنډولی. په ټولیز ډول، په مارچ میاشت کې اوربښت د هېواد په ختیځو، سوېلي، شمالي او لویدیځو برخو کې د کرنیزو محصولاتو په برخه کې مثبته مرسته وکړه او تر ډېره یې په خړوبولو وړ ځمکو کې د اوبو شتون ډاډمن کړ.[3]

د لاسرسي په برخه کې د څارنې او راپور ورکولو د چوکاټ له مخې چې د افغانستان لپاره د بشري مرستو د همغږۍ دفتر (OCHA) لخوا مدیریت کېږي، په مارچ میاشت کې د بشري مرستو د برخې د همکارو ادارو لخوا د لاسرسي په برخه کې د ستونزو د 144 پېښو راپور ورکړل شوی چې د تېرې میاشتې د راپور ورکړل شوو 158 پېښو په پرتله 9 سلنه کموالی ښيي. د بشري غبرګون د پروګرام په پلي کولو کې لاسوهنه د لاسرسي په برخه کې د محدودیتونو اصلي لامل دی او ورپسې د چاپېریال فزیکي ننګونې لکه شدید باران هم یو دلیل بلل کېږي. په مارچ میاشت کې، د 17 پېښو راپور ورکړل شوی چې د ښځو په مشارکت پورې اړوندې وې چې په دې کې د بشري برخې په پروګرامونو کې د ښځو د مشارکت محدودول شامل وو. دا پېښې د بشري برخې په کارونو کې د جنسیت محوره چلند پر اهمیت ټینګار کوي او د بشري مرستو د برخې له همکارو ادارو غواړي چې په خپلو فعالیتونو کې د ښځینه کارکوونکو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړي. یونیسف په ملي او محلي کچو کې د لاسرسي په برخه کې د ستونزو حلولو ته دوام ورکوي ترڅو د حل لارو په اړه خبرې اترې وکړي او ښځینه مرستندویه کارکونکو ته د مرستو رسولو خوندي اصول وړاندې کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې مېرمنې او ماشومان خدمتونو ته لاسرسی لري. پر دې سربېره، یونیسف د ادارو ترمنځ د همغږۍ په میکانیزمونو کې مهم رول لوبوي ترڅو د همغږۍ یوې کړنلارې او خبرو اترو ته د لاسرسي ملاتړ وکړي.

## د پروګرام د غبرګون لنډ تحلیل

### روغتیا

یونیسف په ټولو 34 ولایتونو کې د 2,406 ثابتو روغتیایي مرکزونو له لارې د لومړنیو، منځنیو او درېیمي/بشپړې کچې د لومړنیو او اساسي روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو ته دوام ورکړ. د 2024 کال په مارچ میاشت کې، 5,432,789 کسانو د یونیسف په ملاتړ روغتیایي مرکزونو کې لومړني او اساسي روغتیایي او تغذیوي خدمتونه ترلاسه کړي چې د دغه شمېر نیمايي یې (2,7146,630 کسان) تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان دي. په لرې پرتو او صعب العبوره سیمو کې د روغتیايي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره، یونیسف د 16 ګرځنده روغتیايي او تغذیوي ټیمونو ملاتړ ته دوام ورکړ. پر دې سربېره، یونیسف د روغتیا او تغذیې د ګرځنده ټیمونو په چلولو کې د روغتیا پالنې/مراقبت د 59 کارکوونکو (24 مېرمنو) ملاتړ وکړ. په مارچ میاشت کې، دغو ګرځنده ټیمونو په محرومو سیمو کې شاوخوا 20,267 خلکو ته اساسي روغتیايي خدمات وړاندې کړي (چې نیمايي یې تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان وو). پر دې سربېره، یونیسف په مارچ میاشت کې 27,250 روغتیايي کارکونکو (37 سلنه ښځینه) ته تنخواوې ورکړې. د یونیسف کارکوونکو او ساحوي څارونکو 723 روغتیايي مرکزونه وکتل ترڅو د دغو مرکزونو فعالیت او د خدمتونو کیفیت و ارزوي — د څارنې د کتنو موخه د روغتیايي خدمتونو کیفیت ارزول او د اصلاحي اقداماتو پېژندل او ترتیبول وو.

د ظرفیت لوړولو په برخه کې د یونیسف ژمنتیا په روزنیزو نوښتونو کې څرګنده وه. په مرکزي، ختیځو او شمالي سیمو کې، 7,501 ټولنیز روغتیایي کارکوونکي او 395 روغتیایي کارکوونکي د نویو زیږېدلو (نوزادانو) او د ماشومانو د ناروغیو د هر اړخیز (جامع) مدیریت په برخه کې روزل شوي، دوی د تنفسي ناروغیو، سینه بغل او هایپوترمیا (د بدن د تودوخې ټیټېدل) د مدیریت پر مهارتونو سمبال شول.

په ټولنیزه کچه د شدیدو تنفسي انتاناتو د قضیو د مدیریت ښه کولو لپاره، یونیسف د شدیدو تنفسي انتاناتو د 87,668 قضیو او د نس ناستي د 52,604 قضیو د درملنې لپاره د ټولنیزو روغتیايي کارکوونکو ملاتړ وکړ. پر دې سربېره، د شدیدو تنفسي انتاناتو 49,786 او د نس ناستي (اسهال) 19,430 قضیې د لا ډېر مدیریت لپاره روغتیايي مرکزونو ته راجع شوې. ټولنیزو روغتیايي کارکوونکو امېندوارو مېرمنو، نویو میندو او ماشومانو ته د وړاندې شوي مراقبت د کیفیت ښه کولو لپاره 66,436 تر زیږون مخکې مراقبتونه او 37,727 تر زیږون وروسته مراقبتونه او کورنۍ لیدنې ترسره کړې.

د شید نس ناستي (اسهال) د چمتووالي او غبرګون د یوې برخې په توګه، یونیسف په ټول هېواد کې د شدید نس ناستي د تجهیزاتو او بستو ځای پر ځای کول پیل کړل. تر دې دمه، یونیسف په دې برخه کې په لوړ خطر لرونکو ځایونو کې د شدید ناستي (اسهال) 1,230 بستې ځای پر ځای کړې دي.

د واکسین د معمولو فعالیتونو د ملاتړ زیاتولو له لارې، یونیسف 111,580ماشومانو ته د شري (سرخکانو) واکسین ورکړل، 128,028 ماشومانو ته د پېنټا والېنټ 3 (پنځه ګوني) واکسین ورکړل او 199,004کسان د کووېډ-19 پر وړاندې واکسین شول.

### تغذیه

یونیسف د خدمتونو د وړاندې کولو د څه باندې 3,300 مرکزونو ملاتړ روان ساتلی، ترڅو له پنځه کلنۍ کم عمره ماشومانو ته د شدیدې خوارځواکۍ د درملنې لپاره د تغذیې خدمتونه وړاندې کړي. په مارچ میاشت کې 948,975 ماشومان چې عمرونه یې تر پنځه کلنۍ کم وو، معاینه شوي چې له دې جملې څخه 39,246 ماشومان (56 سلنه نجونې) د درملنې لپاره منل شوي/ثبت شوي دي. د 2023 کال د مارچ میاشتې په پرتله د درملنې لپاره د منل شوو/ثبت شوو ماشومانو په شمېر کې 13 سلنه کموالی راغلی؛ دا کمښت ښايي د ګرځندو روغتیايي او تغذیې ټیمونو د پوښښ ساحې له کمښت او د یونیسف له ملاتړ پرته نورو روغتیايي مرکزونو ته منسوبېدای شي چې له عملیاتي ننګونو سره مخ دي.

یونیسف په مارچ میاشت کې له زیږون څخه تر 23 میاشتو پورې د 186,447 ماشومانو پالونکو/مراقبت کوونکو او 277,414 امېندوارو مېرمنو ته د مور، نوي زیږېدلي او کوچني ماشوم د تغذیې په اړه مشورتي خدمتونه وړاندې کړل. پر دې سربېره، یونیسف د شدیدې خوارځواکۍ د ټولنیز مدیریت په اړه 1,733

---

[3] د افغانستان شدید خوراکي نا خوندیتوب د 2024 کال د مارچ – مې میاشتو اټکل شوې پایلې

ټولنيز روغتيايي کارکوونکي روزلي ترڅو د ټولنې په کچه له پېچليتااوو پرته د شديدې خوارځواکۍ قضيې وګوري، پيدا کړي او درملنه کړي. په مارچ مياشت کې، 295 د ټولنې څارونکي سايټونه فعال وو او د تغذيې د معلوماتو د سيستم له لارې يې د شديدې خوار ځواکۍ د پېښو راپور ورکړ.

## زده کړې

يونيسف د 17,935 محلي زده کړو (CBE) ټولګيو له لارې د زده کړې په برخه کې 557,977 ماشومانو (64 سلنه نجونو) ته خدمتونه وړاندې کړي دي. د راپور ورکولو په مياشت کې د محلي زده کړو د معلوماتو د مديريت په سيستم کې 8 نوي ټولګي چې 240 زده کوونکي (60 سلنه نجونې) لري او د محلي زده کړو 2,262 نوي زده کوونکي (53 سلنه نجونې) د دغو زده کړو په موجوده ټولګيو کې ثبت شوي. يونيسف دغه راز په 14 ولايتونو کې د دولتي ښوونځيو 963,543 زده کوونکو (35 سلنه نجونو) ته درسي کتابونه وېشلي دي. د درسي کتابونو په ګډون د تدريسي او درسي موادو وېش به د نوي تعليمي کال په اوږدو کې دوام وکړي.

د منځنيو زده کړو پر نجونو بنديز لاهم پر ځای دی. يونيسف د ښځينه ښوونکو روزنې ته دوام ورکوي، د دوی روزنه په ښوونځي کې د نجونو د ګډون په تضمين کې اړينه ده، په ځانګړې توګه د تنکيو نجونو لپاره. د راپور ورکولو په مياشت کې، يونيسيف د ښوونکو روزنې او مسلکي ودې په موخه د 2,263 ښځينه ښوونکو ملاتړ وکړ، په دې کې 1,181 ښځينه زده کوونکې د ښوونکو زده کړې ته د نجونو د لاسرسي (GATE) پروګرام له لارې او د خدمت په جريان کې د روزنيز پروګرام له لارې په دولتي ښوونځيو کې د 1,085 ښځينه ښوونکو ملاتړ وشو.

## د ماشوم خونديتوب، په بېړنيو شرايطو کې جنسيتي تاوتريخوالی (GBViE) او له جنسي ګټې اخيستنې او ناوړه استفادې څخه مخنيوی (PSEA)

د 2024 په مارچ مياشت کې، 641,033 ماشومانو او پالونکو/مراقبت کوونکو (21 سلنه نجونو او مېرمنو) د 686 معلولو ماشومانو په ګډون د ماشومانو د خونديتوب او جنسيتي تاوتريخوالي د مخنيوي، خطر کمولو او غبرګون خدمتونه ترلاسه کړي. له دې ډلې، 326,325 ماشومان او پالونکي/مراقبت کوونکي (25,143 نجونې، 40,180 هلکان، 46,012 ښځې او 214,990 نارينه) وو چې د رواني روغتيا او رواني ټولنيز ملاتړ خدمتونو په اړه يې د ماشومانو لپاره د مناسبو/خوندي ځايونو، روغتيايي مرکزونو، د لنډمهالو پالنو د مرکزونو او د ښوونځيو له لارې د جوړښت لرونکي رواني روغتيا رواني ټولنيز ملاتړ د پوهاوي مهم پيغامونه ترلاسه کړل. پردې سربېره، 3,475 زيانمنو ماشومانو (799 نجونو او 2,676 هلکانو) د ماشومانو د خونديتوب د قضيې د مديريت خدمتونو رسېدلي، په دغو خدمتونو کې د 1,160 بې کسه او له کورنۍ څخه د جلا شويو ماشومانو (د 7 نجونو په ګډون) لپاره د کورنۍ تعقيب او بيا يو ځای کول شامل وو. په ټولو زونونو کې له 30 ماشومانو سره (د 7 نجونو په ګډون) مالي مرسته وشوه؛ 154 ماشومانو (د 17 نجونو په ګډون) ته د حرفوي مهارتونو روزنه ورکړل شوه، 1,087 ماشومان (د 315 نجونو په ګډون) د زده کړې په خدمتو نو کې د بيا ځلي ادغام لپاره راجع کړل شول او 18 ماشومانو (د 7 نجونو په ګډون) ته د معيشت ملاتړ خدمتونه وړاندې شول.

د چاودېدونکو توکو خطر د ماشومانو لپاره پام وړ خطر دی، چې په هېواد کې د ماشومانو د لوړ شمېر تلفاتو لامل کېږي. يونيسف او همکارو ادارو د ښوونځيو، ټولنو او رسنيو له لارې د چاودېدونکو توکو د خطر په اړه 299,985 ماشومانو او د ټولنې غړو[4] ته د پوهاوي پروګرامونه جوړ کړي.

پردې سربېره، 5,523 کسانو[5] ته د جنسيتي تاوتريخوالي د مخنيوي، خطر کمولو او غبرګون خدمتونه رسېدلي.

### اوبه، روغتيا ساتنه او پاکوالی/حفظ الصحه (WASH)

په مارچ مياشت کې، يونيسف په ننګرهار، کندهار، پروان، بدخشان، زابل او لغمان ولايتونو کې 72,825 کسانو[6] ته د څاګانو کيندلو، د هغو د بيارغونې او د لمريزې برېښنا په واسطه د اوبو رسولو د سيستمونو د نصبولو او د کورنيو د اوبو نښلولو له لارې د څښاک پاکې اوبه برابرې کړې.

پردې سربېره، 14,644 کسانو[7] په شپږو ولايتونو[8] کې د ښځو او نرانو د جلا حفظ الصحې تشنابونو ته لاسرسی پيدا کړی چې له دې څخه له پاکستانه 735 تنو راستانه شوو ته د بېړنيو حفظ الصحوي تشنابونو او 13,909 تنو ته د کورنيو تشنابونو د جوړولو او کارولو له لارې رسيده کې شوې.

يونيسف په اوو ولايتونو[9] کې 53,235 کسانو ته په صابون سره د لاسونو مينځلو، شخصي حفظ الصحې، د کور په کچه د پاکو اوبو مديريت، د اوبو جوش کولو، د پاکو اوبو د تنظيم او د نس ناستې (اسهال) ناروغۍ د لېرد په اړه د حفظ الصحې د ترويج او پوهاوي ناستې/جلسې جوړې کړې.

برسېره پردې، په اوو ولايتونو[10] کې 49,792 کسانو[11] د کورنۍ حفظ الصحې او د مصرف وړ بستې، د اوبو پاکولو مواد، سطلونه او د اوبو د بوشکو په شمول د اوبو، روغتيا ساتنې او پاکوالي اساسي توکي ترلاسه کړل.

---

[4] 12,977 نجونې، 29,555 هلکان، 43,579 مېرمنې او 213,874 نران.
[5] 1,865 نجونې، 1,666 هلکان او 1,992 مېرمنې.
[6] 16,750 مېرمنې، 18,935 نجونې، 16,749 نران او 20,391 هلکان.
[7] 3,368 مېرمنې، 3,808 نجونې، 3,368 نران او 4,100 هلکان
[8] کندهار، بادغېس، پکتيکا، هلمند، پروان، دايکندي او زابل ولايتونه.
[9] کندهار، بادغېس، پکتيکا، هلمند، پروان، دايکندي او زابل ولايتونه.
[10] ننګرهار، پکتيکا، لوګر، فارياب، دايکندي، پکتيا او ميدان وردګ ولايتونه.
[11] 11,452 مېرمنې، 12,946 نجونې، 11,452 نران او 13,942 هلکان.

یونیسف په 23 ښوونځیو کې د اوبو رسولو، روغتیا ساتنې او د لاس مینځلو د مرکزونو (2 په سوېلي سیمه کې، 20 په لویدیځه سیمه کې او یو په ختیځه سیمه کې) له بیا رغونې سره مرسته وکړه. په ښوونځیو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي پروژو د ښوونځي نږدې 1,771 ماشومانو او ښوونکو ته د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې لومړني خدمتونه وړاندې کړي.

## د ټولنې او سلوک بدلون او اغېزمنو شویو کسانو ته حساب ورکول

په مارچ میاشت کې یونیسف له څه باندې 25,913 خلکو سره د خوارځواکۍ د مخنیوي، د واکسین خدمتونو ته ودې ورکولو، ذهني/رواني هوساینې/سلامتیا، د شدید نس ناستي (اسهال) د مخنیوي، د څښاک د پاکو اوبو خوندي مدیریت او تصفیه کولو، په آزاده فضا کې د حاجت له رفع کولو څخه پر ډډه کولو او د شخصي او کورني حفظ الصحې پر عملي کولو مخامخ خبرې اترې کړې.

د راپور ورکولو په موده کې، د ځوانانو شبکې« قهرمانانو» دوه مهم نوښتونه وکړل، لومړی په شمالي سیمه کې د روژې مبارکې میاشتې د خیریه کمپاین اجرا کول، له ټولنې څخه د بسپنو راټولول او له اړمنو خلکو سره مرسته کول، د لاس نیوي او پیوستون روحیه څرګندول چې دا د دې میاشتې یوه ځانګړنه ده. دوی همدا راز په سوېلي سیمه کې د "ونې کېنوئ ، نوی ژوند وزیږوئ" شعار سره د ونو کېنولو د نوښت مشري هم وکړه چې دا نوښت د محلي ښاروالۍ د چاراوکو لخوا وستایل شو.

اغېزمنو شویو خلکو ته د حساب ورکولو د یوې برخې په توګه، یونیسف د شکایتونو او فیډبیک/نظر غوښتنې د میکانیزمونو له لارې د 9,728 کسانو نظرونه او شکایتونه ثبت کړې. نظرونه د ټولنیز مشارکت او نظر غوښتنې د 129 مرکزونو، ټولنیزو جوړښتونو، د یونیسف په ملاتړ د ټېلېفوني اړیکو د مرکز او نورو میکانیزمونو له لارې راټول شوي و. نظرونه د یونیسف اړوندو پروګرامونو او کلسترونو ته د نورو اقداماتو او د نظر غوښتنې د کړۍ بندولو لپاره لېږل شوي. د دغو مرکزونو معلومات ښيي چې شمالي سیمې په 43 سلنې سره د نظر ورکولو تړلو لوړ نسبت لري او ورپسې په 38 سلنې سره مرکزي سیمې دي. د پام وړ اکثریت فیډبیک/نظر غوښتلو کې چې د ټولو ځوابونو 69 سلنه جوړوي، د مرستې لپاره غوښتنې شاملې وې، چې د زیانمنو خلکو ترمنځ د بشري مرستو شدیده اړتیا څرګندوي.

د محلي همکارو ادارو د کارکوونکو د ظرفیت پیاوړي کولو لپاره، په ختیځه سیمه ننګرهار ولایت کې د 723 لومړۍ کرښې کارکونکو (45 سلنه ښځینه)، ټولنیزو با نفوذه کسانو او د ټولنیزو جوړښتونو د غړو لپاره د ټولنیزو او کوچنیو نقشو د ترسیمولو روزنیزې ناستې جوړې کړې. ګډونوالو ته په دغو روزنو کې د محلي حل لارو د طرحه کولو او په ټولنو کې د ټولنیز چلند د بدلون د اقداماتو لپاره اړین مهارتونه وړاندې شول.

د سوېلي زون د ټولنیز بسیج ټیم د مهمو خدمتونو او اقداماتو په اړه د مهمو، ژوند ژغورونکو معلوماتو په وړاندې کولو سره د افغان بېرته راستنېدونکو د ملاتړ په برخه کې مهم رول لوبولی دی. دوی د ثبت او راجستر په مرکز او په کندهار ولایت کې د لنډمهالې استوګنې مرکز کې 47 بېرته راستنو شویو ته رسیده ګې کړې او هغوی ته یې په خپلو ټولنو کې په آرامۍ سره د مېشتېدو او ادغام په برخه کې د مرستې لپاره ځینې خدمتونه او معلومات وړاندې کړي.

## جنسیت او د تنکیو ځوانانو پرمختګ او ګډون

په مارچ میاشت کې، یونیسف ټولنیزو خوندي ځایونو ته د لاسرسي لپاره د 13,899 ښځو او نجونو ملاتړ وکړ چې دوی د روغتیا، تغذیې، حفظ الصحې، د میاشتنې ناروغۍ/حیض روغتیا، حفظ الصحې او د جنسیتي تاوتریخوالي د معلوماتو او راجع کولو د خدمتونو په ګډون د مهمو معلوماتو او خدمتونو یوه هر اړخیزه بسته ترلاسه کړې. د ښځو او نجونو دا خوندي ځایونه د ښځو په مشرۍ او پر ښځو د متمرکزو ادارو لخوا اداره کېږي. په ټولنیزه کچه د ښځو په مشرۍ ادارو سره کار کول، د ښځو لخوا د ښځو لپاره د مهمو بشري خدمتونو د وړاندې کولو ملاتړ کوي او ښځو او نجونو ته د دې وړتیا ورکوي چې په خوندي ډول مهمو معلوماتو او مهمو خدمتونو ته لاسرسی ولري او په بشري هڅو کې برخه واخلي او مشوره وکړي.

پر دې سربېره، 9,138 ښځو او نرانو، هلکانو او نجونو په ټولنیزه کچه په ډله ییزو خبرو اترو کې برخه اخیستې وه. دا خبرې اترې د روزل شویو تسهیلوونکو لخوا جوړې شوې وې چې په ترڅ کې یې د جنسیتي نورمونو، او ناوړه جنسیتي کړنو په اړه له کلتوري پلوه په مناسب ډول د خبرو اترو زمینه برابره شوه. دغه خبرې اترې په کورنۍ او ټولنه کې د ښځو او نجونو رول ته د ودې ورکولو، اساسي خدمتونو ته د ښځو او نجونو د لاسرسي په موخه د دوی د ملاتړ او په خوندي ځایونو کې د ښځو او نجونو د منلو لپاره جوړې شوې وې.

پر دې سربېره، 1,539 روغتیايي کارکونکي د روغتیا پر وړاندې د جنسیتي خنډونو، د جنسیتي تاوتریخوالي د مخنیوي او غبرګون د څرنګوالی، لکه د افشاء کولو لارې، رواني لومړنۍ مرستې او د راجع کولو د لارو، جنسي ناوړه ګټې اخیستنې او استفادې او جنسي ځورونې په اړه روزل شوي. دا روزنه د ښځو، نجونو، نارینه وو او هلکانو د ملاتړ په برخه کې مهمه ده ترڅو خوندي او له جنسیتي اړتیاوو سره مناسبو روغتیايي خدمتونو ته لاسرسی ولري.

## ټولنیز خوندیتوب او د بشري مرستو د نغدو پیسو لېږد

په مارچ میاشت کې، یونیسف د یوې میاشتې لپاره ګڼ موخیزې نغدي مرستې ووېشلې، چې د 2023 – 2024 کلونو د ژمي غبرګون د یوې برخې په توګه د پروان ولایت په دوو ولسوالیو او د پنجشېر ولایت په دریو ولسوالیو کې له 13,227 کورنیو سره د یو ځل لپاره بشپړې شوې. په موخې وړ کورنیو کې هغه کورنۍ شاملې دي چې د کورنۍ سرپرستي یې معلولین کوي، امېندواره او شیدې ورکوونکي مېرمنې لري، تر دوه کلنۍ کم عمره ماشومان لري او هغه کورنۍ چې سرپرستي یې د ښځو پر غاړه وي. ژمنی غبرګون په دې موخه طرحه شوی و ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې کورنۍ اړینو خدمتونو ته لاسرسی لري، لکه د ماشومانو

د سلامتیا لپاره ګرمې جامې او کمپلې او د اقتصادي ستونزو له امله له رامنځته شوو زیانونو لکه له ډېرو پورونو، د ماشومانو له کار، په ټیټ عمر کې له ودونو او د ښوونځي له پرېښودلو سره د مبارزې لپاره لنډمهالی مالي ملاتړ.

پر دې سربېره، یونیسف د تغذیې په برخه کې د نغدو پیسو د پروګرام ته دوام ورکړ، چې په کونړ ولایت کې 1,823 امېندوارو او شیدې ورکوونکو مېرمنو او همدا راز هغو کورنیو ته چې تر دوه کلنۍ پورې ماشومان لري د نغدو پیسو وروستی پړاو ورانديې کړ. د دغو اقداماتو موخه تر دوه کلنۍ د کم عمره ماشومانو اساسي تغذیوي او روغتیایي اړتیاوو پوره کول وو.

## د بشري مرستو رهبري، همغږي او ستراتیژي

په مارچ میاشت کې د سږو سیمو ښوونځي بیا پرانیستل شول، خو د نجونو لپاره منځني ښوونځي لاهم تړلي دي. د ښوونې او روزنې کلستر له پوهنې وزارت سره د وچکالۍ او همدار راز د ببرته راستنېدونکو د کرکېچ لپاره د چمتووالي او غبرګون د پلان په اړه خبرې وکړې. هغو همکارو ادارو چې د 2023 کال تر پایه یې ملي نادولتي مؤسسو ته د محلي زده کړو د ټولګیو په لېږدولو کې پاتې راغلل نو له هغه وروسته یې دا ټولګي د ولایتي پوهنې ریاستونو ته وسپارل. ډېری ریاستونه وایي چې دوی د دغو ټولګیو ملاتړ نه شي کولی، نو په پایله کې به ماشومان خپلو زده کړو ته په دوام ورکولو کې پاتې شي. پایله دا ده چې د کلستر همکارې ادارې به د محلي زده کړو لړ ټولګي پر مخ وړي چې لړو ماشومانو ته به لاسرسی موجود وي.

د کال په لومړۍ ربعه کې (له جنورۍ څخه تر مارچ میاشتې پورې) 122,598 ماشومان چې عمرونه یې تر پنځه کلنۍ کم دي د شدیدې خوارځواکۍ د درملنې لپاره منل شوي. په ځانګړې توګه، یوازې په مارچ میاشت کې 39,246 ماشومان منل شوي. په ورته دوره کې، 254,303 ماشومان چې عمرونه یې له 6-59 میاشتو پورې دي د منځنۍ حادې خوارځواکۍ پروګرام ته منل شوي، چې په مارچ میاشت کې 85,795 منل شوي. پر دې سربېره، په مارچ میاشت کې، 66,028 امېندواره او شیدې ورکوونکې مېرمنې د درملنې په پروګرام کې شاملې شوې، چې د شیدې ورکوونکو مېرمنو ټول ثبت شوی شمېر 176,976 تنو ته رسېږي.

د کال په لومړۍ ربعه کې څه باندې 1.2 میلیونو خلکو لړترلږه د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي خدمتونه ترلاسه کړي. په مارچ میاشت کې، 96,000 کسانو په کافي اندازه پاکو اوبو ته لاسرسی پیدا کړی، نږدې 7,400 خلکو لومړنۍ یا ښې روغتیا ساتنې ته لاسرسی پیدا کړی، 207,000 خلکو د حفظ الصحې د ترویج په غونډو کې ګډون کړی او نږدې 88,000 خلکو د اړتیا وړ اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي او غیر خوراکي توکي ترلاسه کړي.

د کلستر او همکارو ادارو د احتمالي ذخیرو نقشه اخیستل روان دي. د کلستر د همکارو ادارو لخوا همغږې شویو هڅو سېلاب ځپلو او بېرته راستنېدونکو ته د پاکو اوبو رسولو (96,475 کسانو ته)، د روغتیا ساتنې خدمتونو د لاسرسي د ښه والي (8,127 کسانو ته)، د حفظ الصحې ترویج (207,630 کسانو ته) او د جامدو کثافات دانیو مدیریت او د ناروغیو د خپرېدو د احتمال کمولو لپاره دوامداره اقدامات تضمین کړي.

د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي (WASH) کلستر د بېرته راستنېدونکو او زیانمنو کورنیو لپاره د ادارو ترمنځ د اړتیاوو ارزونې او غبرګون د پروسو ملاتړ ته په ملي او د زون په کچه د میاشتنیو غونډو له لارې دوام ورکړ چې د ننګونو، خنډونو او سېلاب ځپلو او بېرته راستنېدونکو په اړه د بحثونو د اسانولو لامل شو چې ګډې ستراتیژۍ یې له ځان سره لرلې. د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي نړیوال کلستر د دغه کلستر لپاره د ظرفیت لوړولو ستراتیژۍ د یوې برخې په توګه د ټولو فرعي کلسترونو د همغږي کوونکو لپاره له لرې څخه د روزنې ناستې جوړوي.

په مارچ میاشت کې، د ماشومانو د خوندیتوب د برخې د مسؤلیت پروژې د خدمتونو نقشه کول او ارجاعي مسیرونه بشپړ کړل چې د یوې ربعې په جریان کې د ماشومانو د خوندیوب برخې 927,228 ماشومانو ته د جوړښت لرونکي رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ په برخه کې خدمتونه/معلومات وړاندې کړي، په ورته وخت کې 1,041,224 والدینو/مراقبینو د مثبتې پلارولۍ/مورولۍ په اړه پیغامونه او معلومات ترلاسه کړل. ټولټال 1,042 ماشومان د رواني روغتیا ځانګړو خدماتو ته راجع کړل شول. په ټولیز ډول 4,431 ماشومانو (2,334 یې کسه او جلا شوي ماشومان) د قضیې مدیریت خدمات ترلاسه کړل. دغه راز له 989 کورنیو سره نغدي مرسته وشوه. د ماشومانو د خوندیتوب د مسؤلیت ملي برخې د هبواد په ټولو پنځو زونونو کې د ماشومانو د خوندیتوب، د معلوماتو د مدیریت روزنې، د روزونکو د روزنې د ترسره کولو پلان پیل کړ چې موخه یې د زون په کچه د ماشومانو د خوندیتوب برخې پر اړینو مهارتونو او پوهې د همکارو ادارو سمبالول او د ماشومانو د خوندیتوب، د معلوماتو د مدیریت له سیستم څخه په اغېزناکه توګه په خپلو اړوندو ادارو کې ګټه اخیستل دي. د زون په کچه د روزونکو د روزنې پروګرام به په ختیځ زون کې د اپریل له 22مې څخه تر 25مې نېټې پورې جوړ شي. نور سکتوري همکاران په ځانګړې توګه د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي (WASH)، روغتیا، پوهنې او تغذیې ته هم بلنه ورکول کېږي او د ماشومانو د خوندیتوب په اړه د سکتورونو ترمنځ د راجع کولو په موخه روزل کېږي ترڅو خدمتونو ته د ګڼو سکتورونو راجع کول ښه کړي.